مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۷ د لیندۍ ۲۱مه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۱۲مه | دویم کال| ۲۹۹یمه ګڼه

# ارګ د سولې عالي مشورتي بورډ غړي او مسوولیتونه په ډاګه کړل



۳

د سولې لپاره د واحد غړ اړتیا
۲ مخ

پر ملکي وګړو هوايي بریدونه؛ موخې او پایلې
۲ مخ

په فرانسه کې یوې ښځې ځنګه دغه هېواد په لاریونونو بدل کړ؟
۳ مخ

## کابل راتلونکې اونۍ د افغانستان، پاکستان او چین د غونډې کوربه دی

حکومتي سرچینې وايي، راتلونکې اونۍ په کابل کې د افغانستان، پاکستان او چین ترمنځ درې اړخیزه غونډه کېږي.

ویل کېږي چې په دې غونډه کې به پر دریو اساسي مسایلو، سولې او له تروریزم سره پر مبارزې، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د ستونزو پر حل او اقتصادي همکاریو خبرې وشي.

سرچینو ویلي، ټاکل شوې په دې درې اړخیزه غونډه کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ له تروریزم سره د مبارزې او سولې په تړاو هوکړه لیک لاسلیک شي.

دغه غونډه چې د تر سره کېدو ټاکلې ورځ یې معلومه نه ده، د درې واړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په کچه تر سره کېږي.


د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت هم ورمه ورځ رسنیو ته په یوه لېږل شوې اعلامیه کې راتلونکې اونۍ، په کابل کې د درې واړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سیمه ییزې همکارۍ په اړه د یوې غونډې د تر سره کېدو خبر ورکړی و.

د معلوماتو له مخې، چین په دې غونډه کې د ناظر په توګه له افغانستان سره د پاکستان د شوو هوکړو د عملي کېدو نظارت کوي.

د دې غونډې له تر سره کېدو څخه د چین موخه، د جنوبي او مرکزي اسیا هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاریو زیاتول او په سیمه کې د خپلو اقتصادي منابعو د تر لاسه کولو په هدف د امنیت ټینګښت دی.

د افغانستان، پاکستان او چین ترمنځ ورته بله ناسته په ۲۰۱۷ ز کال کې په چین کې جوړه شوې وه.


## خلیلزاد تر پاکستان او روسیې وروسته د ازبکستان له مشرانو سره پر افغان سوله خبرې کړې



۲ مخ

کتاب
۴ مخ

## ستونزه دې حل کړه



## په شمال ختیځ زون کې د خزاني کمپاین په ترځ کې ۴ زره مېوه لرونکي باغونه جوړېږي




په شمال ختیځ زون کې د نیالګیو کېنولو د خزاني کمپاین په ترځ کې ۴ زره مېوه لرونکي باغونه جوړېږي.
د کرنې وزارت د بڼوالۍ د ملي پروګرام مسوولین وايي، د دغو نیالګیو لګښت ۳۲ میلیونه افغانۍ دی چې ۵۰ سلنه یې بڼوال ورکوي.
د دغه پروګرام رییس محمد غلام ملاخېل له رسنیو سره په خبرو کې ویلي چې دا نیالګي وچکالیو او اقلیمي بدلونونو ته په پام سره داسې انتخاب شوي چې اوبه کمې خوري او په للمو ځمکو کې کېنول کېږي.
د شمال ختیځ زون بڼوال له دغه پروګرامه هرکلی کوي او وايي چې په دې سره به د دوی په اقتصاد کې د پام وړ بدلون راشي.
کرنې وزارت هر کال د پسرلي په را رسېدو سره د هېواد په ګوټ ګوټ کې د نیالګیو کېنولو پروسه پیلوي او له بزګرو سره د مېوه لرونکو او بې مېوو ونو مرسته کوي.

## در حمله انتحاری بر کاروان نیروهای امنیتی افغان در ولسوالی پغمان کابل، ۱۲ تن کشته شد



پولیس کابل می گوید که در حمله انتحاری دیروز ، بر کاروان نیروهای امنیتی افغان در ولسوالی پغمان کابل، ۱۲ تن به شمول افراد ملکی کشته شدند.
نجیب دانش سخنگوی وزارت داخله در یک نشست خبری در کابل گفت، ساعت ۹ صبح دیروز، در حمله موتر بمب بالای کاروان نیرو های امنیتی در ولسوالی پغمان کابل، ۱۲ تن به شمول ۴ نیروی امنیتی و هشت فرد ملکی کشته شدند.
به گفته وی، در میان ۸ فرد ملکی کشته شده، دو کودک و دو زن نیز شامل اند.
آقای دانش شمار زخمیان را ۹ تن به شمول ٦ نیروی امنیتی و ۳ فرد ملکی اعلام کرد.
موصوف افزود که این حمله توسط موتر بمب کرولا بالای این کاروان که در حال گذر از منطقه بالا چنار ولسوالی پغمان کابل بوده اند، صورت گرفته است.
گروه طالبان مسئولیت این رویداد را به عهده گرفته‌است.
ذبیح الله مجاهد سخنگوی این گروه در صحبت تلیفونی با رادیو آزادی ادعا کرده است که این حمله توسط یک موتر پُر از مواد انفجاری بالای کاروان قطعه ۰۱ امنیت ملی انجام شده و نظر به ادعای وی در این رویداد ۴۳ تن کشته و زخمی شده‌اند.

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life
دهبوری پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریځ

### د سولې لپاره د واحد غږ اړتیا

د ولسمشر د فرمان له مخې د سولې پروسې د عالي مشورتي بورډ او د سولې خبرو اترو د ټیم غړي وټاکل شول. په فرمان کې راغلي چې د سولې بهیر د عالي مشورتي بورډ او د دولت د خبرو اترو ټیم، د تل پاتې سولې د ټینگښت لپاره د ملي هوکړې رامنځته کېدو په هدف له جهادي، سیاسي او ټولنیزو مشرانو او د ټولنې له بېلابېلو اقشارو سره له مشورو او بحثونو وروسته جوړ شوی دی. دغه بورډ به د سولې په برخه کې ولسمشر ته مشورې ورکوي او د سولې په نورو برخو کې به هم مرسته کوي. په دغه بورډ کې چې مشري یې ولسمشر کوي، د ولسمشر مرستیالان، اجرایه رییس او مرستیالان یې، د سترې محکمې، لویې څارنوالۍ، ولسي جرگې او مشرانو جرگې رییسان، ځینې نور دولتي مشران، د سیاسي گوندونو مشران او غړي شامل دي.

لا معلومه نه ده چې دغه بورډ به څومره په یوه غږ او د یوه هدف لپاره گډ کار وکړي، خو شدیده اړتیا ده چې افغانان د سولې په چاره کې واحد غږ ولري. د افغانستان د سولې په تړاو بحثونه په قطر کې وو، اوس خبره په اسلام اباد کې گرمه ده. په روسیه او د سیمې په نورو هېوادونو کې به هم دا بحثونه گرم شي. په دغو ټولو بحثونو کې خبره د افغانستان د سولې او برخلیک ده، خو له بده مرغه د افغان ولس استازي پکې نشته. دا سمه ده چې طالبان د افغانستان او د افغان ولس د یوې برخې په توگه په قطر کې د دې خبرو برخه دي، خو هغوی د خپلو مجبوریتونو او تمایلاتو پر اساس ټول هغه څه نه شي غوښتلی چې خلک یې غواړي. دا رښتیا ده چې حکومت څنگ ته شوی دی او همداسې ورسره سیاسیون هم څنگ ته شوي دي. له همدې امله د سولې په هڅو کې افغان لوري پیکه دي. موږ منو چې دا حکومت او سیاستوال د ولس استازیتوب نه شي کولی، خو که حکومت او مخالف سیاستوال یې ټول په یوه غږ د سولې دغو خبرو ته ور گډ شي، له شک پرته چې په دغو خبرو کې د افغاني غوښتنو او گټو د ځای پر ځای کېدو شونتیا زیاتېږي. سیاسي اختلافات پر خپل ځای، خو په اوسنیو شرایطو کې اړتیا ده چې موږ د سولې په تړاو واحد غږ ولرو. له بده مرغه لا هم ځینې کسان د اساسي قانون په بهانه او یا هم د تېرو اوولسو کلونو د لاسته راوړنو په بهانه هڅه کوي چې د سولې د هڅو پر وړاندې ودرېږي. دا چاره له اساسي قانون او لاسته راوړنو سره د مینې په خاطر نه کېږي، بلکې دا کار د سولې پر وړاندې د خنډ جوړولو او د جگړې د دوام لپاره کېږي. هغوی چې په حکومت کې دي او یا له حکومت څخه د باندې دي، پکار ده چې نور له ولس سره دښمني پرېږدي او له سولې سره مرسته وکړي. حکومت دې هم هڅه نه کوي چې دا ډول هڅې د سولې د هڅو د شنډولو او یا هم د خپل ټاکنیز کمپاین لپاره وکاروي، بلکې پکار ده چې د سولې لپاره یې وکاروي.

# پر ملکي وگړو هوایي بریدونه؛ موخې او پایلې

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز

د امریکا د هوایي ځواکونو د معلوماتو پر بنسټ په روان زېږدیز کال کې د دوی له لوري پر افغان خاوره نږدې شپږ زره بمونه غورځول شوي چې دا شمېره په تېرو لسو کلونو کې تر ټولو لوړه گڼل کېږي.

د هوایي بریدونو له زیاتوالي سره له تېرو څو میاشتو راهیسې د افغان او بهرنیو ځواکونو په هوایي بریدونو او شپنیو پوځي عملیاتو کې د ملکي وگړو د مرگ ژوبلې پېښې په بې ساري ډول زیاتې شوې دي. یوازې له تېرو دوو اونیو راهیسې په هلمند، لوگر او پکتیا ولایتونو کې د افغان او بهرنیو ځواکونو په هوایي بریدونو او شپنیو پوځي عملیاتو کې لسگونو ملکي وگړو ته مرگ ژوبله اوښتې ده.

د ملکي وگړو د وژلو پېښو د ملي شورا او عامو افغانانو توند غبرگونونه هم راپارولي؛ که څه هم له بده مرغه چې د اورېدو لوری یې نشته. د ولسي جرگې غړي وایي چې د عامو افغانانو د وژل کېدو پر وړاندې د حکومت بې پروایي اوج ته رسېدلې او د افغان او بهرنیو ځواکونو له خوا هره ورځ پر ملکي وگړو مرگوني هوایي او ځمکني بریدونه روان دي.

په داسې حال کې چې د سولې خبرې اترې له تېرې نږدې یوې لسیزې راهیسې په وروستیو څو میاشتو کې یوه هیله بښونکي پړاو ته رسېدلې دي، خو داسې ښکاري چې په دغه پروسه کې پر طالبانو د فشار زیاتولو لپاره په پراخه کچه ملکي خلک قرباني کېږي.

د هوایي بمباریو زیاتوالی، د ملکي وگړو ژوند ته نه پاملرنه او دا چې روان وضعیت به څه پایلې ولري؟ هغه موضوعات دي چې دلته مو بحث پرې کړی دی.

**د ملکي وگړو مرگ ژوبله**

د افغانستان په روانه جگړه کې له تېرو ۱۷ کلونو راهیسې د جگړې د ښکېلو خواوو له لوري د ملکي وگړو ژوند ته پاملرنه نه ده شوې او له همدې امله هر کال په دې جگړه کې د جگړې د ښکېلو لورو ترڅنگ، زرگونو ملکي وگړو ته هم مرگ ژوبله اوړي.

د یوناما د شمېرو له مخې، له ۲۰۰۷ ز کال را وروسته چې یوناما پکې د ملکي وگړو د مرگ ژوبلې ثبتول پیل کړل، د ۲۰۱۷ ز کال تر پایه په افغانستان کې په مجموعي توگه ۸۴۲۴۶ ولسي وگړو ته د جگړې د ښکېلو لورو لهخوا مرگ ژوبله اوښتې ده.

په ۲۰۱۴ ز کال کې د ملي یووالي حکومت له راتگ سره، کله چې له امریکا سره امنیتي تړون په هېواد کې د امن او سولې په پار لاسلیک شو، خو برعکس د جگړې میدان گرم او د ملکیانو مرگ ژوبله زیاته شوه. د یوناما د ارقامو له مخې، د ملي یووالي حکومت په دوره کې هر کال شاوخوا لس زره ملکي وگړو ته مرگ ژوبله اوښتې او په ټولیز ډول دغه وضعیت ورځ تر بلې د جگړې د میدان له گرمېدو سره د خرابېدو پر لور روان دی چې په افغانستان کې د یوه ناورین ښودنه کوي.

د ملکي وگړو د مرگ ژوبلې څارونکي بنسټونه په افغانستان کې د ملکي وگړو د مرگ ژوبلې پړه تر ډېره د دولت پر وسله والو مخالفینو ور اچوي، خو د وسله والو مخالفینو ترڅنگ افغان او بهرني ځواکونه د دې مرگ ژوبلې مهم عاملین دي چې په دغو راپورونو کې تر ډېره سترگې پرې پټېږي. د بهرنیانو له لوري په ړندو هوایي بمباریو کې د عامو خلکو کورونه، مدرسې، جوماتونه، جنازې، د خوښیو مراسم او نور ملکي تجمعات وخت ناوخت په نښه شوي او په تېرو څو کلونو کې یې زرگونو ملکي افغانانو ته مرگ ژوبله اړولې ده.

**پر ملکیانو د هوایي بریدونو زیاتوالی**

په ټوله کې، تېر کال د افغانستان او سوېلي اسیا لپاره د امریکا د نوې پوځي ستراتېژۍ له اعلان وروسته په افغانستان کې هوایي بمبارۍ زیاتې شوې، خو په وروستیو څو اونیو کې په دغو بمباریو کې ډېری مهال عام وگړي په نښه کېږي.

روانه میاشت په پکتیا کې د افغان او بهرنیو ځواکونو په گډو عملیاتو کې د ښځو او ماشومانو په گډون ۸ ولسي وگړي ووژل شول او ۴ نور ټپیان شول. له دې وړاندې په هلمند کې د افغان او بهرنیو ځواکونو په بمبارۍ کې ملکي خلک په نښه شول چې یوناما پکې د ښځو او ماشومانو په گډون د ۲۳ ولسي وگړو وژل کېدل تایید کړل، خو نړیوالو رسنیو دا کچه ۳۰ تنه ښودلې. دغه راز په لوگر او غزني کې د گډو ځواکونو د عملیاتو پرمهال شاوخوا ۱۵ ملکي وگړو ته مرگ ژوبله اوښتې وه.

هوایي بمبارۍ د ملکي وگړو په مرگ ژوبله کې رول لرونکی او مهم فکتور دی.

په داسې حال کې چې په افغانستان کې یوازې د روان ۲۰۱۸ ز کال له جنورۍ بیا د اکتوبر تر وروستۍ نېټې د امریکایانو له لوري د حکومت د وسله والو مخالفینو د ځپلو په موخه ۵۹۸۲ بمونه غورځول شوي، خو پایله یوازې دا وه چې جگړه گرمه وساتل شي او ملکي وگړو ته پکې مرگ ژوبله واوړي، پرته له دې یې کومه مثبته پایله نه ده لرلې؛ ځکه د نظامي فشارونو له لارې د افغان جگړې گټل هغه څه دي چې په ۱۷ کلونو کې یې اغېز نه دی لیدل شوی او یوازې د تېرو ناکامو تجربو تکرار بلل کېدای شي.

له هوایي بمباریو او د وسله والو مخالفینو له بریدونو ورهاخوا په وروستیو کې ځینې مرموزې چاودنې او بریدونه هم د ملکي وگړو د مرگ ژوبلې یو بل لامل دی. د میلاد النبي په مناسبت په کابل ښار کې خونړی برید او لسگونو ملکي کسانو ته یې مرگ ژوبله اړول، د دغه راز بریدونو وروستۍ بېلگه ده.

له دې ټولو سره ویلی شو چې د افغانستان په روانه جگړه کې د ښکېلو خواوو له لوري د جگړې اصولو ته نه پاملرنه، ړندې بمبارۍ او په ټولیز ډول قصداً د وحشت خپرول، هغه څه دي چې د ملکي وگړو د مرگ ژوبلې زیاتوالي ته یې لاره هواره کړې ده.

**د سولې وروستي پرمختگونه او ملکي تلفات**

په افغانستان کې د روانې جگړې د پای ته رسولو په موخه په وروستیو کې د امریکا او طالبانو ترمنځ خبرې اترې او په دې برخه کې په مستقیم ډول د امریکا له خوا اخیستل شوي گامونه، هغه څه دي چې د افغانانو ترمنځ یې د روانې جگړې د پای ته رسېدو او د یوه ارام افغانستان هیلې را ټوکولې دي.

که څه هم داسې ښکاري چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د افغان سولې په اړه د خبرو پر مهال دواړه لوري هڅه کوي چې د جگړې په میدان کې یو پر بل فشارونه وارد کړي او د خبرو پرمهال د زیات امتیاز ترلاسه کولو په موخه یو بل ته خپل قوت ښکاره کړي، خو دا چاره یې د ملکي وگړو په زیان تمامه شوې ده.

په وروستیو کې افغان حکومت او بهرنیانو پر طالبانو بمبارۍ او شپني عملیات زیات کړي او له بلې خوا طالبانو د جگړې پر ډگر او چاودنو تمرکز زیات کړی چې وروستی ستر برید یې په کابل ښار کې پر G4S برېټانوي شرکت باندې و چې په پایله کې یې د څلورو بهرنیانو په گډون لس کسان ووژل شول او ۲۷ تنه نور ټپیان شول، خو د دغو فشارو په لړ کې د ملکي وگړو مرگ ژوبله په بې‌ساري ډول زیاته شوې او په ځانگړې توگه د افغان او بهرنیو ځواکونو په گډو هوایي عملیاتو کې نېغ په نېغه د ملکي خلکو کورونه په نښه کېږي.

له بده مرغه افغان حکومت د افغان او بهرنیو ځواکونو د عملیاتو پر مهال د ملکي وگړو پر مرگ ژوبله تل چوپتیا غوره کړې او په دې برخه کې یې تر دې دمه د خلکو له پراخو اعتراضونو سره سره کوم جدي گام نه دی پورته کړی، خو دا هغه څه کېدای شي چې د عامو افغانانو او حکومت ترمنځ یې لا هم واټن زیات کړی. دغه راز د جگړې پر میدان به یې هم اغېز دا وي چې ښایي ځینې دردېدلي افغانان د مخالفینو لیکو ته ورشي او بېرته د افغان حکومت پر ضد وسله واخلي، کوم څه چې په تېرو کلونو کې هم د حکومت د وسله والو مخالفینو د لیکو تقویه کولو یو مهم لامل بلل شوی دی.

## د غزني- پکتیکا لویې لارې تړل کېدو خلک له ستونزو سره مخ کړي دي



د غزني اوسېدونکي او موټر چلوونکي وایي، په تېره روژه کې وسله والو طالبانو د غزني ولایت پر اندړو ولسوالۍ وسله وال برید وکړ او زیاته مرگ ژوبله یې واړوله. دوی وایي، له هغه وروسته وسله والو د غزني- پکتیکا لاره د غزني ولایت د ارزې او سلطان باغ سیمو ترمنځ د هر ډول ترافیکو پرمخ وتړله چې لا هم بنده ده.

محمد اسماعیل او حاجي لال خان چې د غزني- پکتیکا پر لویه لار موټرونه چلوي ازادي راډیو ته وویل: «وسله وال یوازې په کلیو او خامه لاره موټرونو ته د تگ اجازه ورکوي چې دوی ورسره له سختو مشکلاتو سر مخ دي. دغه ټوله خامه لاره کندړه کپر ده، په شگو او خاورو کې سفر کوي، خولې یې له خاورو ډکې وي او سخت تکلیفونه ورباندې تېرېږي او همدارنگه کله چې له پکتیکا نه غزني ته خپل ناروغان وړو، نو له خپل رنځه زیات کړېږي او کرایې هم زیاتې ورسره لوړې شوې دي.»

د غزني سیمه ییزه اداره هم دا مني چې له تېرو شپږو میاشتو راهیسې د غزني- پکتیکا ترمنځ غځېدلې لاره چې د غزني څو ولسوالۍ هم له مرکز سره نښلوي، د دولت مخالفینو د هر ډول ترافیکو پر مخ تړلې ده.

د غزني والي وحیدالله کلیمزی وایي: «طالبانو د خپلو گټو په خاطر دغه لاره تړلې ده تر څو وسایط له لویو لارو کښته کړي او تر خپل تسلط لاندې سیمو کې د مالیې په نوم پیسې ورڅخه واخلي».

که څه هم د غزني اوسېدونکي او موټر چلوونکي د دې لویې لارې بندېدو له ستونزو سره مخ کړي، خو د دغه ولایت امنیه قوماندان جنرال داود ترهخېل بیا وایي، اوسهمال د دې لارې د خلاصون نیت نه لري.

نوموړی وایي: «په درېیم وار به د دې لارې د خلاصون په موخه گام پورته کړو. موږ به لومړی په غزني کې امنیت ټینگوو، بیا به د کابل- کندهار لاره خلاصوو او هلته به امنیت ټینگوو، له هغه وروسته مو په درېیم ځل د دې لارې د خلاصون نیت کړی دی.»

## خلیلزاد تر پاکستان او روسیې وروسته د ازبکستان له مشرانو سره پر افغان سوله خبرې کړې



د افغان سولې لپاره د امریکا ځانگړي استازي د ازبکستان له مشرانو سره د سولې پر پروسه خبرې کړې دي.

د ازبکستان په پلازمېنه تاشکند کې د امریکا سفارت لهخوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې خلیلزاد د ازبکستان له ولسمشر شوکت مرزایوف، د بهرنیو چارو وزیر او نورو چارواکو سره لیدلي دي.

سرچینې زیاته کړې چې دواړو لورو د افغان سولې پر پروسه، پرمختگونو او راتلونکو پلانونو خبرې کړې دي، خو دغه سفارت د دې لیدنې په اړه نور جزیات نه دي ورکړي.

بلخوا د ازبکستان د بهرنیو چارو وزارت لهخوا په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې د زلمي خلیلزاد ترڅنگ په دې لیدنه کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د سوېلي او مرکزي اسیا هېوادونو په برخو کې مرستیال وزیر هم شتون درلود.

سرچینې زیاته کړې، دواړو خواوو پر دې ټینگار وکړ چې افغان شخړه نظامي حل نه لري، نو اړینه ده چې دې جگړې ته د سیاسي لارو چارو له مخې حل ومومندل شي. دغه راز په دې لیدنه کې د افغانستان د سولې په اړه د تاشکند پر پخوانۍ کنفرانس هم خبرې شوې دي.

په خبرپاڼه کې راغلي، دواړو پر دې هم موافقه وکړه چې هېڅ افغان لوری باید د سولې له پروسې پاتې نه شي او دا پروسه باید افغان شموله وي.

وروسته له هغې چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د افغان سولې لپاره خلیلزاد د ځانگړي استازي په توگه وټاکلی، نوموړي د افغان جگړې د پای ته رسولو او له طالبانو سره د سولې خبرو د بریالیتوب لپاره نړیوال او سیمه ییز سفرونه پیل کړي چې د دغو سفرونو په لړ کې یې د وسله والو طالبانو له استازو سره هم په قطر کې دوه ځلې مخامخ لیدنې شوې دي.

د یادونې ده چې زلمی خلیلزاد د افغان سولې په اړه په خپل درېیم سفر کې تر اوسه پاکستان، افغانستان او روسیې ته سفرونه کړي. ټاکل شوې چې هغه به قطر، متحده عربي اماراتو او بلجیم ته هم سفرونه وکړي.

لیکنه: غزا نور - بي بي سي پښتو

# په فرانسه کې یوې ښځې څنګه دغه هېواد په لاریونونو بدل کړ؟

په فرانسه کې د سونتوکو د بیې په لوړېدو سره له څو میاشتو راهیسې اعتراضونه پیل شوي وو چې په تېره اکتوبر کې په لاریونونو بدل شول.

په دغو لاریونونو کې د شنبې په ورځ نږدې ۱۲۵ زرو کسانو ګډون کړی و چې لس زره یې یوازې پاریس کې وو.

لاریون کوونکي چې د سونتوکو د بیې زیاتېدو خوابدي کړي، د پلورنځیو ښیښې ماتوي، موټر سوځوي او هټۍ لوټوي. د دوی دغه کار د فرانسې اقتصاد ته ډېر زیان اړولی، څکه د فرانسې د مالیې وزیر دغه لاریونونه د خپل هېواد اقتصاد ته ناورین او د ولسواکۍ او ټولنې لپاره کړکېچ بولي.

هغه په پاریس کې د لاریونونو له امله زیانمنو پلورنځیو ته د تلو په وخت کې وویل: «دا د کار او کسب لپاره ناورین دی، د اقتصاد لپاره ناورین دی».

د لاریونونو له امله حکومت هم اړ شو چې پر سونتوکو لګېدلې مالیه وځنډوي، خو لا هم لاریونونه روان دي.

د پاریس ښار په څنډو کې ۳۲ کلنه موټروانه پریسیلیا لودوسکي د دغو لاریونونو پیلوونکې ده.

هغې په مې میاشت کې د سونتوکو د بیې کمولو لپاره د فرانسې د ډیزلو په پمپونو کې کمپاین پیل او په انټرنېټ کې یې له خلکو وغوښتل چې غوښتنه یې لاسلیک کړي.

هغې په خپله غوښتنه کې لیکلي وو چې حکومت د پټرولو او ډیزلو بیه بیا بیا زیاتوي.

د پریسیلیا دې انټرنېټي غوښتنې د ۲۰۱۸ ز کال تر اکټوبر پورې د چا پام خپل نه کړ، خو د اکټوبر پر ۲۲مه لوپریزین ورځپاڼې د دې موټروانې د غوښتنې په هکله رپوټ جوړ کړ.

له دغه رپوټ وروسته ډېرو خلکو د سونتوکو د بیې کمولو لپاره د هغې غوښتنه لاسلیک کړه.

په ورته مهال ډېرو فېسبوک کاروونکو د دې غوښتنې د ملاتړ لپاره (د سونتوکو د بیې ډېرېدلو مخالف ملي بلوکاڅ) په نوم ډله جوړه کړه.

ځینو کسانو هم په خپله خوښه ځایي ډلې جوړې کړې.

ځینو کروندګرو هم په خواله رسنیو کې فلمونه او کلیپونه خپاره کړل او په هغو کې یې د خپل ژوند سخت حالت بیان کړ.

همدا وو چې دغه لاریونونه د اکټوبر په وروستیو کې لا ډېر فعال شول.

ژېړ واسکټي د خواله رسنیو له لارې له یو بل سره ملګري شول. اوس هم دوی د خپل غږ پورته کولو او مظاهرو لپاره دا رسنۍ کاروي.

ژېړ واسکټي یوه ښځینه غږ را پورته کړل، خو لا هم دوی کوم ځانګړی مشر نه لري.

**ولې ژېړ واسکټي؟**

لاریون کوونکو اول د سونتوکو د بیې او مالیې کمېدل غوښتل، خو اوس د ولسمشر استعفا هم غواړي. د فرانسې اوسني لاریونوال په ژېړ واسکټو مشهور دي.

زېړ واسکټ هغه واسکټ دی چې د قانون له مخې باید ټولو فرانسوي موټرونو کې وي، کله چې موټر خرابېږي او بېړنی حالت وي، موټروان یې اغوندي او مرستې ته په تمه کېږي.

دغه قانون په ۲۰۰۸ ز کال کې پلی شو او که یې څوک نه مني، ۱۵۳ ډالره جریمه کېږي.

ژېړ واسکټي هغه لاریونونه هم بیا یادوي چې په ۲۰۱۳ ز کال د فرانسې برېټانوي ولایت کې د موټرونو له درنو مالیو لګېدو سره په مخالفت کې وشول. هغه مهال معترض موټروانان او موټر لرونکي هم په سورخولیو مشهور شوي وو.

**ژېړ واسکټي ولې لاریونونه کوي؟**

د لي پاریسین ورځپاڼې تر رپوټ وروسته د لودوسکي غوښتنې زور واخیست او لاریونونه پیل شول. زېړ واسکټي وايي، د تېلو مالیه او د سونتوکو بیه زیاته شوې او د پېرلو وس یې کم شوی، څکه دوی لاریونونه کوي.

د ډیزلو بیه چې تر ډېره د فرانسې په موټرو کې کارېږي، په تېرو ۱۲ میاشتو کې ۲۳ سلنه ډېره شوې او د هر لېټر بیه ۱،۵۱ ایرو ده.

د سونتوکو مالیې زیاتول د امانویل مکرون د حکومت پلان دی چې په ۲۰۱۷ ز کال کې تصویب شو.

دغه سیاست اغېز د ۲۰۱۸ ز کال په اکټوبر کې ډېر شو او له همدې سره د اکټوبر په وروستیو کې لاریونونه هم په ټول هېواد کې پیل شول. اوس چې لاریونونه پراخ شوي، سیاسي غوښتنې هم ور سره ډېرې شوې دي او ان د ولسمشر امانویل مکرون د ګوښه کېدو غږونه هم پورته کېږي.

**د چا ملاتړ زیاتېږي؟**

د شنبې ورځې لاریونونو د ارامولو لپاره ۸ زره پولیس او ۱۲ زره زغروال ګاډي پر سړکونو ولاړ وو. په زېړ واسکټو مشهورو دغو لاریونکوونکو د پام وړ ملاتړ خپل کړی، څکه د فرانسې پر سیاسي فضا او د خبرونو پر سرټکو باندې بدل شوي دي.

کله چې د نومبر پر ۱۷مه د لاریونوالو شمېر له دوو لکو ډېر او په ټوله فرانسه کې یې ستراتېژیکې سترې لارې او مرکزونه وتړل، نو څارونکي او سیاسي لوبغاړي یې ویښ کړل.

دغه لاریونونه په کوم سیاسي ګوند یا ټولنې پورې تړلي نه دي، بلکې ډېرو داسې کسانو ګډون پکې کړی چې وايي، اول ځل له یوه لاریون یا داسې یوې ټولنیزې غوښتنې سره یو ځای کېږي.

فرانسوۍ ورځپاڼې لوفیغاړو/ لوفیګارو وايي، دغه کړکېچ په خلکو کې د ولسمشر ایمانویل مکرون او لومړي وزیر اډوارډ فیلیپ پر ملاتړ اغېز کړی.

د وروستیو سروې ګانو د پایلو له مخې، اوس لومړی وزیر په خلکو کې تر ولسمشر ډېر محبوبیت لري.

هغه داسې چې اډوارډ فیلیپ د ۵۵ سلنه خلکو، خو ولسمشر مکرون ایله د ۳۰ سلنه خلکو ملاتړ له ځان سره لري.

ورځپاڼه لیکي، د ولسمشر محبوبیت په خلکو کې څکه کم شوی چې د تېرو اونیو د لاریونونو پرمهال یې له دې ستونزې ځان ډېر ګوښه ساتلی و او د خلکو غوښتنو ته یې چنداني پام ونه کړ.

**د ژېړ واسکټو لاریونونه د نېټې له مخې**

د فرانسې د مالیې وزیر دغه لاریونونه د اقتصاد لپاره ناورین بولي. چارواکي وايي، دغه هېواد ته تراوسه پورې په میلیونونو یورو تاوان رسېدلی دی.

د نومبر په ۱۷مه، ۲۸۲ زرو کسانو لاریون وکړ، یو کس ووژل شو، ۴۰۹ ټپیان او ۳۷ نور ونیول شول.

د نومبر په ۲۴مه، ۱۶۶ زرو کسانو لاریون وکړ، ۸۴ ټپیان او ۳۰۷ کسان ونیول شول.

د ډسمبر په لومړۍ، ۱۳۶ زرو کسانو لاریون وکړ، ۲۶۳ ټپیان او ۶۳۰ نور ونیول شول.

د ډسمبر په ۸مه، ۱۲۵ زرو کسانو لاریون وکړ، ۱۱۸ ټپیان او ۱۷۲۳ نور ونیول شول.

# ارګ د سولې عالي مشورتي بورډ غړي او مسوولیتونه په ډاګه کړل



د ولسمشر د فرمان له مخې د سولې پروسې د عالي مشورتي بورډ او د سولې خبرو اترو د ټیم غړي وټاکل شول.

دغه څرګندونې په هغې خبرپاڼې کې شوې چې د ملي امنیت شورا له خوا تېره ورځ رسنیو ته لېږل شوې ده.

په فرمان کې راغلي چې د سولې بهیر د عالي مشورتي بورډ او د حکومت د خبرو اترو ټیم، د تل پاتې سولې د ټینګښت لپاره د ملي هوکړې رامنځته کېدو په موخه له جهادي، سیاسي مشرانو او د ټولنې له بېلابېلو اقشارو سره له مشورو او بحثونو وروسته جوړ شوی دی.

دغه بورډ چې د ولسمشر تر مشرۍ لاندې جوړشوی، مسوولیت لري، څو د افغانستان د دولت په مشرۍ د سولې بهیر لپاره اساسي مشورې وړاندې کړي، د سولې بهیر د کاري کمېټو وړاندیزونه وڅېړي، د اړتیا په صورت کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د خبرو اترو ټیم لپاره اجنډا او ګټور چوکاټ وړاندې کړي، د سولې د مذاکراتو پر تحقق نظارت وکړي، د عالي بورډ په جلسه کې د ملي یووالي حکومت مشرتابه، د ملي شورا د مجلسینو رییسان، قاضي القضات، د ملي امنیت سلاکار، د جمهوري ریاست مقام د دفتر عمومي رییس، لوی څارنوال، د ملي امنیت عمومي رییس، په پارلماني چارو کې د دولت وزیر، د سیمه ییزو ارګانونو د خپلواکې اداري مشر، د افغانستان د علماوو شورا مشر او د سولې عالي شورا د دارالانشا مشر ګډون کوي.

د دغه فرمان له مخې په پارلماني چارو کې د دولت وزیر موظف دی چې د جلسې د جوړېدو او د سولې عالي مشورتي بورډ له غړو سره د همغږۍ مسوولیت پر غاړه ولري.

د سولې عالي مشورتي بورډ جلسې په میاشتنۍ او یا هم د اړتیا په صورت کې په فوق العاده ډول ترسره کېږي.

د یادونې وړ ده چې په دې وروستیو کې د سولې په برخه کې د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په افغانستان کې د سولې د راوستو په موخه د طالبانو تر څنګ له ګاونډیو او نورو هېوادونو له مشرانو سره لیدنو کتنو ته دوام ورکړی.

# ملګري ملتونه: په یمن کې شل میلیونه وګړي له لوږې سره مخ دي



د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د چارو مشر وايي، په جګړه ځپلي یمن کې شل میلیونه وګړي وږي دي چې دا شمېره د دغه هېواد د نفوس ۷۰ سلنه برخه جوړوي.

د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د چارو مشر مارک لوکاک ویلي، په یمن کې د وږو کسانو په شمېر کې د تېر کال په پرتله ۱۵ سلنه زیاتوالی راغلی او لومړی ځل په دغه هېواد کې دوه نیم لکه کسان له ناورین سره مخ دي.

لوکاک چې له یمن څخه تازه راستون شوی، خبریالانو ته یې د دغه هېواد وضعیت ډېر ناوړه وباله او ویې ویل چې په دغه هېواد کې بشري وضعیت خطرناکې مرحلې ته رسېدلی دی.

هغه ویلي، دوه نیم لکه یمنیان د هغې نړیوالې درجې په پنځمه مرحله کې دي چې د خوراکي موادو د خوندیتوب او خوارځواکۍ تر ټولو ناوړه حالت ترسیموي.

هغه زیاته کړې، دغه وضعیت تر ډېره د یمن په څلورو، تعز، صعده، حجه او حدیده ولایتونو کې چې درنې جګړې پکې روانې دي، واکمن دی.

د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د چارو مشر دغه راز ویلي، جنوبي سوډان بل هغه هېواد دی چې د دغه نړیوالې درجې په پنځمه درجه کې شامل دی او ۲۵ زره وګړي یې له ناورین سره مخ دي.

لوکاک زیاته کړې، په یمن کې نږدې پنځه میلیونه وګړي په څلورمه درجه کې چې د اضطراري وضعیت لپاره ټاکل شوې، شامل دي.

دوی له سختې قحطۍ او په لوړه کچه له خوارځواکۍ سره مخ دي، د مرګ او مېر اندازه له حده زیاته ده.

د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د چارو مشر ویلي، د یمن د جګړې ډېره قرباني ملکیانو ورکړې چې له لسو زرو زیات کسان پکې وژل شوي او دغه هېواد یې په نړۍ کې له تر ټولو ناوړه بحران سره مخ کړی دی.

هغه ویلي، ملګري ملتونه په پام کې لري چې راتلونکی کال ۱۵ میلیونو وګړو ته مرستې ورسوي او د دغه کار لپاره د څلورو میلیاردو ډالرو د بسپنې ټولولو غوښتنه کوي.

لوکاک زیاته کړې، د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونیو ګوترېش به د سویډن او سویس په مرسته د یوه نړیوال مرستندویه کنفرانس چې د ۲۰۱۹ ز کال په فبرورۍ کې به په ژنیو کې جوړ شي، کوربه‌توب وکړي او د یمن لپاره به له نړیوالو د مرستې غوښتنه وکړي.

د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د چارو مشر همدا راز هیله څرګنده کړې چې په سویډن کې د ملګرو ملتونو په منځګړیتوب د یمن د سولې روانې خبرې به پایله ورکړي.

لوکاک ویلي، په یمن کې د جګړې د پای ته رسېدو او د وضعیت د ښه کېدو لپاره اړتیا ده چې دا پنځه اساسي اقدامات وشي:

د جګړې د ښکېلو خواو ترمنځ اوربند، پر مرستندویو سازمانونو او د تېلو پر واردولو د محدودیتونو پای ته رسول، اقتصادي ثبات، د ملګرو ملتونو له خوا د ۲۰۱۹ ز کال لپاره د څلورو میلیاردو ډالرو بسپنې راټولولو ملاتړ او د ملګرو ملتونو په منځګړیتوب په سویډن کې د یمن د جګړې د پای ته رسېدو لپاره د حوثي یاغیانو او د حکومت ترمنځ د لومړنیو ګامونو اخیستل.

## د کتـــاب خبـــرې

# د رهبرۍ اړینې ځانگړنې

### ۲۱ هغه ځانگړتیاوې چې یو غوره رهبر یې حتماً ولري

◎ لیکوال: جان مکسوېل
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### یوویشتم ځانگړنه
**ارمان:**



**پر دې فکر وکړئ**
ارمان له کومه کېږي؟ که غواړئ چې د رهبرۍ په برخه کې ارمان ولرئ، نو باید ښه اورېدونکي شئ، باید ډېر افکار او نظریات واورئ.

**باطني غږ**
مخکې مې درته وویل چې ارمان له باطنه پیدا کېږي، آیا تاسې د خپل ژوند ماموریت پېژندلی دی؟ په زړه مو څه دي؟ کوم خوبونه گورئ؟ تاسې چې ژوند کې څه تعقیبوئ، دا که ستاسې د زړه غږ نه وي، ورته رسېدلی نشئ.

**مرور غږ**
د لویو مفکورو الهام له کومه راځي؟ ماتو او ناکامیو ته پام، له اوسنیو حالاتو مرورتیا د ارمان پیدا کولو یو لوی لامل دی. آیا غواړئ چې خپله نړۍ بدله کړئ؟ په نړۍ کې داسې لوی رهبر نشته چې له بدلون سره وران وي.

**بریالی غږ**
هېڅوک په یوازې ځان نشي بریالي کېدای. که تاسې خپل ارمان پوره کول غواړئ، نو یوې ډلې ته اړتیا لرئ. د دې تر څنگ د هغو خلکو ښو سپارښتنو ته هم اړتیا لرئ چې په رهبرۍ کې تر تاسې وړاندې دي. که غواړئ چې نورو ته لارښونه وکړئ، نو ځانته یو لارښود یا سلاکار پیدا کړئ. آیا تاسې داسې سلاکار لرئ چې ستاسې د ارمان په ټاکلو او صیقل کولو کې درسره مرسته وکړي؟

**لوړ غږ**
سره له دې چې ارمان له باطنه پیدا کېږي، خو تاسې باید ځان یوازې تر خپلو وړتیاوو محدود نه کړئ. په لوی ارمان کې باید خدای هېر نه کړئ، یوازې خدای ستاسې په ټولو وړتیاوو خبر دی. آیا په خپل ارمان کې مو له ځان او له دې نړۍ ورهاخوا کتلي دي؟ که مو داسې نه وي کړي، ښایي له خپلو بالقوه وړتیاوو به خبر نه یاست.

**د رسېدو لار**
د ارمان د پیاوړتیا لپاره لاندې کارونه وکړئ:

- ځان وتلئ. که ارمان لرئ، نو وگورئ چې د دې ارمان د پوره کېدو لپاره مو څومره کار کړی دی؟ له خپلو څو نږدې او مهمو خلکو لکه د ژوند ملگري/ملگرې، همکار، دوست یا نورو سره وغږېږئ او د خپل ارمان په اړه ترې نظر واخلئ؟ که هغوی ستاسې ارمان تشرېح کړ، نو ارمان مو ژوندی دی.
- ویې لیکئ. که ارمان لرئ او لیکلی مو نه وي، نو دا کار نن وکړئ او ویې لیکئ. په لیکلو فکر رڼېږي. بیا دا فکر وکړئ، آیا دا ارمان دومره ارزښت لري چې تاسې ورته خپل ژوند وقف کړئ؟ که ځواب مو مثبت وي، نو تعقیب یې کړئ.
- بیا یې وگورئ. که په خپل ارمان مو ډېر کار نه وي کړی، څو میاشتې یا اونۍ فکر پرې وکړئ او وگورئ چې زړه مو په دې اړه څه وایي:
  - څه شي ژړا درولي؟ .............................................
  - څه شي خندا درولي؟ .............................................
  - څه شي قوت درکوي؟.............................................

تر څنگ یې دا وگورئ چې په چاپېریال کې څه بدلول غواړئ؟ داسې څه دي چې نشته، خو موجود کېدای شي؟ په دې برخه کې چې مو اړین معلومات پیدا کړل هغه ولیکئ او له یوه سلاکار سره یې په اړه وغږېږئ.


**له تجربې زده کړه**
رابرت وودرافت له ۱۹۲۳ تر ۱۹۵۵ز کلونو پورې د کوکاکولا شرکت رئیس و. نوموړي هغه وخت غوښتل چې امریکایان وکړی شي د نړۍ په هر کونج کې کوکاکولا په ۵ سنټه واخلي. دا ډېر لوی کار و، خو دې سړي په خپل ذهن کې یو بل لوی ارمان هم پاللی و، دا ارمان یې بیا د هغه پر وړاندې هېڅ و. ده غوښتل چې په ټوله نړۍ کې خلک د کوکاکولا د څښاک خوند تجربه کړي. تاسې چې د ځان په اړه ژور فکر وکړئ، څه گورئ؟

**پایله**
هیله ده چې د یاد کتاب (د رهبرۍ اړینې ځانگړنې) نومي کتاب له لوستلو به مو خوند اخیستی وي. هیله ده (د رسېدو لار) له برخې مو هم گټه اخیستې وي، ځکه دا یو ډول تمرین و. هدف مو دا دی چې د دغو مطالبو په مرسته د ودې او پرمختگ په لاره گامونه پورته کړئ.
زه غواړم تاسې دې ته وهڅوم چې د خپلې رهبرۍ په لاره کې وده وکړئ. دا کتاب ولولئ او د رهبرۍ په لاره کې خپله وده و ارزوئ. ځانته یوه برنامه جوړه کړئ، کتابونه لولئ، روزنیز فلمونه گورئ، غږیز کتابونه اورئ او کنفرانسونو ته ورځئ، دا به وده درکړي.
بله دا چې ځان ته یو لارښود پیدا کړئ، داسې لارښود چې مخامخ یا د کتابونو او غږ په وسیله درته لارښوونه وکړي. که تاسې غواړئ داسې رهبر شئ چې خلک پرې راټولېږي، نو یوازینۍ لار یې دا ده چې د رهبرۍ په اړه ولولئ او زده کړه وکړئ. په دې لاره درته یو ښه سفر غواړم. **ـ پای ـ**

# ستونزه دې حل کړه

اکسوس کتابپلورنځی

(ستونزه دې حل کړه) کتاب تازه پښتو ژبې ته ژباړل شوی دی. د کتاب لیکوال مشهور امریکایي ارواپوه برایان ټریسي دی. ټریسي لسگونه کتابونه لیکلي چې له دې مخکې یې هم پښتو ته څو کتابونه ژباړل شوي دي.
دغه کتاب گلاب بهار پښتو ته ژباړلی، پښتو بڼه یې ۹۲ مخونه لري چې بیاکتنه یې امان الله حنیفي کړې ده.
ستونزه د حل کړه کتاب پر لټۍ د برلاسۍ او په کم وخت کې د ډېر کار کولو ۲۱ غوره او اسانه لارې چارې درښیي. دا لارې او اصول له تاسې سره مرسته کولای شي، څو د لارو په بدلولو سره پر خپل وخت او ژوند کنټرول ترلاسه کړی. یانې فکر کول، کار کول او له بېوزلۍ سره مبارزه کول هغه څه دي چې ستاسې ژوند بدلولای شي.
پر ژوند او وخت کنټرول ستاسو په کار او فعالیتونو پورې اړه لري، یانې څومره کارونه کولای شی او د څومره کارونو د ترسره کولو مخنیوی کوی. دغه کتاب درته وایي چې د ډېرو کارونو په ځای پر لږو هغو چې تاسې یې رښتیا ترلاسه کولای شی، ډېر تمرکز وکړی او خپل ژوند بدل کړی.
د دغه کتاب تر ټولو ښه ځانگړنه دا ده چې پر لټۍ د برلاسۍ او په لږ وخت کې د ډېر کار کولو هره لاره او اصل د لیکوال او د لیکوال د سیمینارونو د گډونوالو پر تجربو ولاړ دی.
لیکوال وایي، ما له ۳۰ کلونو څخه ډېر وخت، د وخت مدیریت مطالعه کړی او ډېر وخت مې له هغو کسانو سره کار کړی چې په دې برخه کې متخصصین او ماهرین دي، لکه پیټر دراکر، الکس مکیکینزي، ایلن لایکسین او ځینې نور. همدارنگه مې د شخصي وړتیا او اغېزمنتوب په اړه سلگونه کتابونه او مقالې لوستي. یوازې پر دې مې هم اکتفاه نه ده کړې، بلکې د خپلو سیمینارونو د گډونوالو له تجربو څخه مې هم گټه اخیستې چې دغه کتاب د دغو ټولو فعالیتونو پایله ده.
په دغه کتاب کې وړاندې شوي اصول او نظریات به ستاسې د پوهې او تجربې پر اساس ستاسې د کامیابۍ لامل شي. که چېرې دغه مېتودونه او تخنیکونه تاسې په خپل ژوند کې عملي او عادت وگرځوئ، نو په خپل ځان کې به مثبت بدلون احساس کړی.
مینه وال کولای شي دغه کتاب په کابل کې له اکسوس او نورو لویو کتابپلورنځیو ترلاسه کړي.




## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | طبي ټرمینالوژي | دوکتور بریالی رسولي | ۱۵۰؋ |
| ۲ | توبرکلوز | پوهاند دوکتور سید انعام سید انعام سیدي | ۱۰۰؋ |
| ۳ | لومړۍ نړیواله جگړه | سیدمحمد فضل الله بخاري | ۱۲۰؋ |
| ٤ | سراج الاخبار | زیار (داود جنبش) | ۱۲۵۰؋ |
| ۵ | شین ستوری | شفیع الله تاند | ۶۰؋ |
| ٦ | حکومتي پور اخیستنه( استقراض دولت ) | پوهاند عبدالله حقایقي | ۱۰۰؋ |
| ۷ | د ټېر اناټومي | پوهنمل ډاکټر یما صدیقي | ۱۵۰؋ |
| ۸ | د امریکا په متحده آیالاتو کې ۲۰۰ نړیوال نسخه شوی درمل | ډاکټر ذبیح الله وردگ | ۱۵۰؋ |
| ۹ | ژبپوهنیزې نومونې (ماسترۍ تېزس) | پوهنیار رحمان الله قانع | ۱۳۰؋ |
| ۱۰ | لابراتواري ازمایښتونه | ډاکټرمحمد مستنصر | ۱۰۰؋ |
| ۱۱ | ادبی سبک پوهنه ( دمقالو ټولگه) | پوهنوال جانس خان زړن | ۱۶۰؋ |
| ۱۲ | کابلي والا(د افغانستان او هندوستان د اولسونو د ژوند رښتینی انځور) | حشمت الله مجددی | ۱۳۰؋ |
| ۱۳ | منظوم داستاني ادبیات( کلاسیکه دوره ) | پوهنیار سلیمان صیاد | ۱۰۰؋ |
| ۱٤ | رادیولوژي | پوهنوال الحاج ډاګټر نجیب الله خلیلي | ۱۳۰؋ |
| ۱۵ | عالي ریاضیات | استاد یوسف شهاب | ۱۷۰؋ |
| ۱٦ | د وینې بانکی سیستم | قدرت الله امانی | ۸۰؋ |
| ۱۷ | عمومي پتالوژي | پوهاند دوکتور خلیل احمد بهسودوال | ۳۸۰؋ |
| ۱۸ | وروستۍ خبرې (ناول) | محمداجان یار | ۲۶۰؋ |
| ۱۹ | فارموسیوټیک (فارمیسي کلینک ) | استاد ډاګټر عباس دانش | ۷۰؋ |
| ۲۰ | توره پیشو (ناول) | محمداجان یار | ۱۰۰؋ |
| ۲۱ | د څېړنې بنسټونه اوډولونه | محمد صدیق روهی | ۱۰۰؋ |
| ۲۲ | د زړه او رگونو ناروغۍ | پوهاند دوکتور دل اقا دل | ۲۲۰؋ |
| ۲۳ | د پښتورگو بیوشیمي | نورعالم لقماني | ۱۵۰؋ |
| ۲٤ | طبي اناټومی | ډاګټر یما صدیقي | ۱۳۰؋ |
| ۲۵ | د غاښونو انستیزي او مورفولوژي | ایم ډي ستوماتولوگ دوکتور محبوب الله نشاط | ۸۰؋ |
| ۲٦ | د وینې لوړ فشار او دشکرې ناروغي | دوکتور سید ملیار سادات | ۵۰؋ |
| ۲۷ | دخوبومستند تعبیر | الشیخ عبدالغني بن اسماعیل النابلسي | ۲۲۰؋ |
| ۲۸ | !Eat that Frog | Brian Tracy | ۱۲۰؋ |
| ۲۹ | د اشرف غني خیالي خوبونه | شفیع الله تاند | ۲۰۰؋ |
| ۳۰ | د قانون جوړونې اصول | پوهنوال دوکتور مصطفی نیازی | ۱۰۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ — اړیکه: 0202504652 - 0798-98-9696

همیانۍ

# په طبیعت او د طبیعي پېښو په مدیریت کې د سپوږمکۍ رول

لیکنه: عاصم مایار

د مخابراتي خدمتونو او ټلوېزيوني خپرونو د پوښښ لپاره به مو له سپوږمکۍ (سټلايټ) څخه د ګټې اخيستنې په اړه څه نا څه اورېدلي وي، خو سربېره پر دې، سپوږمکۍ د طبيعت، طبيعي سرچينو او پېښو په مديريت کې هم خورا اغېزمن رول لوبوي.

سپوږمکۍ د بشر په لاس جوړه شوې هغه وسيله ده چې له ځمکې څخه تشيال (فضا) ته د بېلابېلو موخو لپاره استول کېږي. سپوږمکۍ د خپل عمر تر پايه پورې د ځمکې په شاوخوا کې په يوه ټاکلي سرعت د ګرځېدو په حال کې وي.

له سپوږمکۍ د ګټې اخيستنې يوه اساسي موخه دا ده چې د ځمکې اړوند معلومات راټولوي او د عکسونو په بڼه يې د ځمکې پر سر ځانګړو مرکزونو ته رالېږي.

دا معلومات او انځورونه له پروسس وروسته په بېلابېلو ادارو او برخو کې کارول کېږي.

له انځور اخيستلو وروسته انسان په دې فکر کې شو چې څرنګه له لوړې ارتفاع څخه د دښمن د طاقت د معلومولو لپاره انځورونه واخلي.

د دغه کار لپاره يې ګازي بالونونه په کامرو سمبال کړل. دا د سپوږمکيو لومړۍ هڅه وه، خو اوس د ټکنالوژۍ د پرمختګ له برکته هر څه خورا دقيق او پرمختللي دي.

سپوږمکۍ له ځمکې څخه ډېرې لرې فاصلې ته استول کېږي او له هغه ځايه په زماني او مکاني لحاظ ډېر دقيق معلومات ځمکې ته رالېږي.

ډېر وخت پرمختللي هېوادونه تر ټولو دقيق او پټ استخباراتي معلومات په سپوږمکيو راټولوي او بيا په نظامي برخو کې ورڅخه ګټه اخلي. په اوس وخت کې له سپوږمکيو د نظامي فعاليتونو ترڅنګ، په ملکي برخو، لکه: هوا پېژندنې، اوبو، کرنې، مخابراتو، ځمکپېژندنې او نورو څېړنيزو برخو کې خورا ډېر کار اخيستل کېږي.

که په لنډ ډول وويل شي، سپوږمکۍ بشر ته هغه معلومات راټولوي چې په ځمکه يې د تر لاسه کولو امکان ډېر لږ وي.

سپوږمکۍ د طبيعي پېښو په وړاندوېينه، مديريت او د بيارغونې په پلان کولو کې هم مهم رول لوبولای شي چې له دې جملې د سېلابونو، وچکالۍ، ځپلو، سوځېدنې او اورشيندنې سيمو د تخريب کچه معلومول دي.

په لومړيو وختونو کې هر څه د دولتونو تر کنټرول لاندې وو. دولتونو د نظامي چارو ترڅنګ، ملکي برخې هم ورو ورو تر پوښښ لاندې راوستې. د شلمې پېړۍ په وروستيو کې د امريکا متحده ايالتونو قانون شخصي سکټور ته هم اجازه ورکړه چې په دې برخه پانګونه وکړي. د شخصي سکټور په رامنځته کېدو سره په دې برخه کې رقابت نور هم ډېر شو او د سپوږمکيو کارېدلو سوداګريزه بڼه غوره کړه.

د هوا پېژندنې په برخه کې سپوږمکۍ د حرارت درجې، اورښتونو، واورو او توپانونو د وړاندوېينو لپاره داسې کارول کېږي چې د ورېځو څپې د موقعيت له پلوه تحليلوي او بيا يې د تګ مسير او وخت معلوموي.

وروسته دغه معلومات د ځانګړو مېتودونو او سيستمونو څخه په ګټې اخيستنې تحليلېږي چې په ترڅ کې يې خلکو ته د اورښتونو او نورو اقليمي حالاتو په اړه وړاندوېينې کوي.

په ځمکه د واورو، يخچالونو او د ځمکې په پوښښ کې د بدلونونو، لکه د ښار او کرنې د پراختيا، منظم عکسونه برابروي او په مناسب وخت کې ورڅخه اړين معلومات تر لاسه کېدای شي.

د بېلګې په ډول، د ترياکو د کرکيلې د معلومولو لپاره هم په ډېره اسانه توګه ورڅخه کار اخيستل کېږي. همدارنګه د ځمکپېژندنې په برخه کې د کانونو او منرالونو د کشفولو او نقشه کولو لپاره هم کارول کېږي.

د دغو ټولو ترڅنګ، د سپوږمکۍ له انځورونو په متنازعو قضاياوو کې هم کار اخيستل کېدای شي؛ ځکه دغه وسيله له ځمکې په بې طرفه او منظم ډول انځورونه اخلي. يوه ښه بېلګه يې کولای شو د هلمند سيند په هامون او ترڅنګ يې د ايران په اړونده خاوره کې د کرنې او اوبو ساحې د پراختيا د تغيراتو ارزول وټاکو.

د دې سيمې منظم او دقيق انځورونه په نړيوالو ډېټابېسونو کې شته او دا په ډاګه کوي چې ايران د هامون اوبه ځومره خپلې خوا ته اړولې دي او په ځومره پيمانه يې کرنيزه ځمکه ورته پراخه کړې.

سپوږمکۍ د طبيعي پېښو په وړاندوېينه، مديريت او د بيارغونې په پلانولو کې هم مهم رول لوبولای شي چې له دې جملې د سېلابونو، وچکالۍ ځپلو، سوځېدنې او اورشيندنې سيمو د تخريب کچه معلومول دي.

له طبيعي پېښې وړاندې او وروسته د سپوږمکۍ د تصويرونو مقايسه کولای شي د تخريب شوې سيمې کچه په ښه توګه معلومه کړي.

سپوږمکۍ او د انځورونو تحليل يې په نوره نړۍ کې د پوهنتونونو ځانګړې تشکيلوي، خو په افغانستان کې دا هر څه ډېر لږ دي. يوازې په يوه پوهنتون کې يوه څانګه شته چې په فرعي توګه په دې برخه کې کار کوي او د هغې کچه هم خورا ټيټه ده.

افغان دولت ته پکار ده چې په دې برخه کې د ځوانانو روزلو ته د پاملرنې ترڅنګ، په پرمختيايي پروژو او همدارنګه د سپوږمکۍ له انځورونو په نړيوالو معاملو، لکه له ايران او نورو هېوادونو سره د اوبو د ستونزو په حل کې کار واخلي.

## ولسي جرګه: په افغان سوله کې د هندوستان همکاري اړينه ده

د سولې عالي شورا د افغان سولې په برخه کې د سيمې، په ځانګړې ډول د هندوستان په مرسته ټينګار کوي او وايي، ټول ګاونډي هېوادونه بايد د افغان سولې په برخه کې د خپل توان په اندازه مرسته وکړي.

د دې شورا مرستيال قاضي محمدامين وقاد دا څرګندونې وروسته له هغې وکړې چې د پاکستان د بهرنيو چارو وزير شاه محمود قريشي ويلي، په افغانستان کې د هند مرستې ته په کتو، اړتيا ده چې ياد هېواد هم په افغان سوله کې مرسته وکړي.

وقاد په دې اړه ازادي راډيو ته وويل: «زموږ هيله دا ده چې پاکستان په خپل ځای کې د افغانستان په سوله کې نقش ولري او نور هېوادونه چې په دې برخه کې کوم رول لوبوي، بايد مخالفت يې ونه کړي. دا چې اوس يې په افغان سوله کې د هندوستان د همکارۍ غوښتنه کړې دا پر ځای غوښتنه ده، موږ يې موقف تاييدوو او هيله لرو چې ټول ګاونډي او سيمه ييز هېوادونه د افغانستان د سولې په پروسه کې په خپل قدرت او صلاحيت چې لري يې، مرسته وکړي.»

د پاکستاني رسنيو د راپور په اساس د دغه هېواد د بهرنيو چارو وزير ورمه ورځ پارلمان ته په وينا کې ويلي، متحده ايالتونه چې د افغان سولې په اړه له پاکستانه کومې غوښتنې لري، دا يوازې د پاکستان په وس نه دي پوره او د سيمې هېوادونه، چين او ايران په ځانګړې ډول هندوستان بايد په دې برخه کې مرسته وکړي.

قريشي دغه راز ويلي، افغان جګړه پوځي حل نه لري او لازمه ده چې سياسي حللاره ورته ولټول شي.

له دې وړاندې د ناټو عمومي منشي ينس سټولټنبرګ هم په افغانستان کې د سولې لپاره د امريکا د پيل کړو هڅو د ملاتړ ترڅنګ، د سيمې له هېوادونو غوښتنه وکړه چې د افغان حکومت په مشرۍ د سولې له پروسې سره مرسته وکړي.

له دې سره جوخت، ټاکل شوې چې د پاکستان د بهرنيو چارو وزير شاه محمود قريشي راتلونکې اونۍ د افغانستان او پاکستان د اړيکو د ښه کېدو او د افغان سولې په تړاو د خبرو لپاره کابل ته سفر وکړي.

پاکستاني رسنيو د يکشنبې په ورځ وويل چې قريشي د امريکا د هغو هلو ځلو په لړ کې افغانستان ته سفر کوي چې په افغانستان کې يې د سولې او ثبات د ټينګښت لپاره د پاکستان د همکارۍ د جلبولو په خاطر کوي.

په ورته وخت کې د ولسي جرګې د بهرنيو اړيکو د کمېسيون غړي که څه هم د افغانستان د سولې په پروسه کې لا هم د پاکستان همکاريو ته د شک په سترګه ګوري، خو وايي په دې برخه کې د هندوستان رول مهم دی.

د دغه کمېسيون غړې ارين يون ازادي راډيو ته وويل: «د سيمې ټول هغه هېوادونه چې د افغانستان د سولې په برخه کې مرسته کوي، نو د افغانستان ولسونه به په دې برخه کې هېڅ هېواد ته رد ځواب ورنه کړي او هرکلی به يې وکړي، نو هند هم يو له هغو هېوادونو دی چې له افغانستان سره يې هر وخت مرسته کړې، که د سولې په برخه کې هم مرسته وکړي، نو پايلې به يې ښې وي.»

دغه څرګندونې په داسې حال کې کېږي چې په دې وروستيو کې د افغان سولې په تړاو تر بل هر وخت هلې ځلې چټکې شوې دي.

د افغان سولې لپاره د متحده ايالتونو د بهرنيو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خليلزاد د سيمې هېوادونو ته درېيم سفر او له بېلابېلو چارواکو سره يې ليده کاته هغه څه دي چې سولې ته د رسېدو په موخه يې د افغانانو هيلې زياتې کړې دي.

## مشرانو جرګه: ځينې کړې هڅه کوي چې د کابل د رای شمېرنې پروسه له کړکېچ سره مخ کړي

مشرانو جرګه وايي، د کابل د ټاکنو د رای شمېرنې په پروسه کې ګڼې ستونزې موجودې دي. د دې جرګې غړي وايي، ځينې کړې هڅه کوي چې د کابل ولايت د رای شمېرنې پروسه له کړکېچ سره مخ کړي.

د دې جرګې مشر فضل هادي مسلميار بيا د سناتورانو له څرګندونو وروسته پر ټاکنيزو کمېسيونونو غږ وکړ چې پاکې او ناپاکې رايې سره جلا او حق حقدار ته وسپاري.

نوموړي همدا راز وويل، د کمېسيون کارونه به تر جدي څارنې لاندې ونيسي.

مسلميار زياته کړه: «د سناتورانو لهخوا د انتخاباتو په تړاو څرګندونې وشوې، همدارنګه د انتخاباتو په کمېسيون کې ځينې ملاحظې موجودې دي چې دا به د ملي شورا له لوري تعقيب شي».

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې ولسي جرګې او ځينو نورو ادارو هم په ټاکنيزو کمېسيونونو کې د فساد او لاسوهنې په تړاو نيوکې کړې وې.



له دغو نيوکو وروسته د ولسي جرګې په ټاکنو کې د درغليو او لاسوهنو په تړاو توند غبرګونونه را وپارېدل او دغه غبرګونونه د دې لامل شول چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون د هغو مرکزونو په تړاو چې پر وړاندې يې شکايتونه موجود وو، د رايو د بيا شمېرنې پرېکړې ته اړ شي.

خو د ټاکنيزو شکايتونو کمېسيون اوس وېلي چې د ټاکنو د خپلواک کمېسيون يوه پلاوي ډاډ ورکړی چې د کابل په حوزه کې له ناپاکو رايو څخه د پاکو رايو د جلا کېدو لپاره به په بشپړه توګه د ټولو اسنادو د سپارلو بهير ډېر ژر بشپړ کړي.

د مشرانو جرګې غړي وايي، کمېسيونونه بايد د خلکو په پاکو رايو لوبه او سياسي معامله ونه کړي.

د دې جرګې غړي انجنير فرهاد سخي وويل: «داسې لاسونه کار کوي چې د کابل انتخابات له لوی کړکېچ سره مخ کړي، کمېسيونونه په خپلو منځو کې اچوي او د خلکو په رايو لوبه کوي او سياسي معاملې ته لار هواروي». سناتورانو همدارنګه له ټاکنيزو کمېسيونونو وغوښتل، څو هغه کسان له لېسته لرې کړي چې د درغليو له لارې يې رايې اخيستې دي. تر دې مخکې هم ځينو سياسي ګوندونو ويلي، که کمېسيون پاکې او ناپاکې رايې سره جلا نه کړي، د ټاکنو پايلې ورته د منلو وړ نه دي.

خو د ټاکنو خپلواک کمېسيون وايي، رای شمېرنه د څارونکو په حضور کې ترسره کېږي او کمېسيون ژمن دی چې دا پروسه به په پوره شفافيت مخ ته يوسي.

اقتصاد

د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۵,۸۵ |
| € | ۸٦ |
| Rp. | ٥٤٣ |
| ₹ | ۱۰٥٥ |
| ¥ | ۱۰,۹۰ |
| £ | ۹٥,۳۰ |

پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 12:00 |
| کابل - انقره | 17:30 |
| کابل - جده | 19:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
لیکوالان: محمد نظیم سمون، شفیق امیرزی، جاوید کوټوال او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین، حشمت نوري، جواد تیموري او امان الله حنیفي
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وايګل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!


flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې ورو‌ستی برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

چهارشنبه د ۱۳۹۷ د لیندۍ ۲۱مه | د ۲۰۱۸ د ډسمبر ۱۲مه | دویم کال | ۲۹۹یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ۸ | ۱۵ | ۱۶ | ۱۳ | ۱۸ | ۱۳ |
| -۸ | ۱ | ۱ | ۱ | ۳ | ۱ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۳۰ | لمر ختل ۰۶:۴۸ | ماسپښین ۱۲:۱۵ | مازیګر ۰۴:۰۴ | ماښام ۰۵:۴۰ | ماخوستن ۰۶:۵۵

## گزارش «دیدبان شفافیت» و «میک» بی اساس، غیر مسلکی و گمراه کننده خوانده شد




ستره محکمه و وزارت های معادن و معارف افغانستان؛ گزارش های اخیر مبنی بر وجود فساد در این نهادها را بی اساس، غیر مسلکی و گمراه کننده خواندند.

دیدبان شفافیت افغانستان به تاریخ ۱۸ قوس، نتایج یک سروی را منتشر ساخت که امسال در افغانستان ٤،٦ میلیون تن ۱،۷ میلیارد دالر رشوت داده اند.

در گزارش یادشده آمده بود که بیشترین فساد در محاکم و قضا، وزارت معارف و لوی خارنوالی، پولیس، شاروالی، شورای ملی؛ و کمترین فساد در مکاتب و پوهنتون ها، شفاخانه ها، وزارت حج و اوقاف، وزارت زراعت، ریاست امنیت ملی و اردوی ملی شده است.

همچنان به اساس یک گزارش دیگر، کمیتۀ مستقل مشترک نظارت و ارزیابی مبارزه علیه فساد اداری(میک)، دو روز پیش با نشر گزارشی گفت که ضعف در مبارزه با فساد، مداخله های سیاسی در استخدام، مداخله های بیرونی به دلیل ضعف در پروسه قراردادها و سیاست زدگی پروسه‌های تصمیم گیری؛ باعث آسیب پذیری های فسادزا در وزارت معادن می شود.

امان الله ایمان سخنگوی ستره محکمه افغانستان، دیروز در یک نشست خبری مشترک با نوریه نزهت سخنگوی وزارت معارف و عبدالقدیر مطفی سخنگوی وزارت معادن و پترولیم در کابل گفت: «سروی دیدبان شفافیت افغانستان، واضح نیست و این ارقام مردم را اغوا می کند. این سروی بسیار بی انصافانه، غیر مسلکی می باشد، از دستاورد های ما یاد نشده است، هیچ نمی دانیم که در سروی از کدام معیار ها کار گرفته اند؟ ما آنرا ناقص، مبهم و غیر مسلکی می دانیم.»

وی افزود که مبارزه با فساد اداری، از اولویت‌های ستره محکمه افغانستان است و در چهار سال گذشته، دستاوردهای خوبی نیز داشته است.

## نړۍ




## د برېتانیا لومړۍ وزیرې له اروپايي اتحادیې سره د شوې هوکړې د ژغورلو هڅې پیل کړې

د برېتانیا لومړۍ وزیره د هغې موافقې د ژغورلو لپاره له اروپايي مشرانو سره خبرې کوي چې له مخې یې دغه هېواد له اروپايي اتحادیې وځي.



تریزامې په همدې موخه په هاګ کې د هالنډ له لومړي وزیر مارک روټ سره تر کتنې وروسته د جرمني له لومړۍ وزیرې انګلا مېرکل سره د لیدو لپاره برلین ته ځي.

مې هڅه کوي چې له اروپايي اتحادیې د برېتانیا د وتلو په اړه شوې موافقه چې په کور دننه د اپوزېسیون لهخوا له سخت مخالفت سره مخ شوې، وژغوري.


د اروپايي اتحادیې رییس ډونالډ توسک ټینګار کړی چې د دې اتحادیې نور ۲۷ غړي هېوادونه به د بریکزیټ د موافقې په اړه له سره غور ونه کړي، خو مشران کولای شي چې د هغې د تصویب لپاره د اسانتیا برابرولو په برخه کې له برېتانیا سره مرسته وکړي.

توسک ویلي، د اروپايي اتحادیې مشران به په دې اړه د بروکسل په سرمشریزه کې چې تاکل شوې د پنجشنبې په ورځ جوړه شي، بحث او خبرې وکړي.

د برېتانیا لومړۍ وزیرې په پارلمان کې په دې اړه رای ګیرې هغو اندېښنو ته په پام سره چې ښایي وکیلان هغه رد کړي، ځنډولې او له اروپايي مشرانو سره د یوې بدیلې موافقې د ترلاسه کولو لپاره یې لیدنو کتنو ته مخه کړې ده.

د برېتانیا په پارلمان کې د اپوزېسیون د کارګر ګوند مشر جرمي کورباین په ګډون، اکثره وکیلان د مې پر دې پرېکړه چې له اونیو راهیسې یې په ټینګار ویلي چې دغه معامله به مخ ته یوسي، په غوسه کړي دي.

## ملګرو ملتونو د کډوالۍ د تنظیم او د غیر قانوني کډوالۍ د مخنیوي لپاره تړون تصویب کړ



ملګرو ملتونو د کډوالۍ د تنظیم او د غیر قانوني کډوالۍ د مخنیوي لپاره یو تړون تصویب کړ.

سره له دې چې ځینې هېوادونه اوس هم د کډوالۍ له پدیدې سره مخالفت کوي، خو ملګري ملتونه وایي چې د دغه تړون تصویبېدل د نړیوال خوندیتوب لپاره یو مهم اقدام دی.

دغه تړون چې په مراکش کې د ۱۵۰ هېوادونو د مشرانو او استازو په غونډه کې تصویب شو، د امریکا په ګډون ۱۵ هېوادونو یې له تصویبېدو ډډه وکړه.

یاد تړون چې د خوندیتوب لپاره د نړیوال قرارداد نوم ورکړل شوی، تر ۱۸ میاشتو خبرو وروسته چې په جولای کې نهايي شوی و، په رسمي ډول په مراکش کې د ملګرو ملتونو د دوه ورځنۍ کنفرانس په ترڅ کې تصویب شو.


د کډوالۍ د مدیریت لپاره د لومړني نړیوال سند په توګه دغه تړون ۲۳ هدفه رانغاړي چې د قانوني کډوالۍ لپاره به زمینه برابره او په غیر قانوني توګه به له پولو د تېرېدو مخه ونیسي؛ ځکه د هغو کسانو شمېر چې په نړیواله سطحه د حرکت په حال کې دي، تر ۲۵۰ میلیونو ډېر دی.

د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونیو ګوتریش دغه تړون د بې نظمیو او ځورونې د مخنیوي لپاره یوه نقشه بللې ده او وایي، د هغه څه د مخنیوي لپاره به هڅې وکړي چې ده د دغه تړون په اړه شایعات وبلل.

داسې ادعاوې هم شوې چې دغه تړون به ملګرو ملتونو ته اجازه ورکړي، څو پر ځینو هېوادونو د کډوالۍ پالیسي تحمیل کړي، خو ګوتریش وویل، دغه تړون قانوني مجبوریت نه دی، بلکې د نړیوالې همکارۍ لپاره یو داسې چوکاټ دی چې په ځانګړي ډول د دولتونو د حاکمیت پر قاعدې ټینګار کوي.

## ژوند

## په سهار کې د یو ګیلاس شیدو ګټې!



۱- د انسان د وجود د ودې او نمو لامل کېږي.
۲- هډوکي قوي کوي او د کمزورتیا مخه یې نیسي.
۳- د مېکروبونو په مقابل کې د بدن مقاومت لوړوي او د ناروغیو مخنیوی کوي.
۴- په بدن کې د اوبو د کمېدو او اسهال مخنیوی کوي.
۵- عصبي سیستم پیاوړی کوي او انسان ته ذهني سکون وربښي.
٦- د معدې او کلمو زخمونه له منځه وړي.
۷- غاښونه قوي او سپین ساتي.
۸- د سږو له ناروغۍ څخه مخنیوی کوي.
۹- د وینې فشار نورمال ساتي.
۱۰- هغه شیدې چې غوړي پکې کم وي، په وینه کې د کلسټرولو کچه تنظیموي.
۱۱- د هر ډول سرطان په مخنیوي کې مهم رول لوبوي.
۱۲- وېښتان او نوکان مو قوي او ښکلي ساتي.
۱۳- له وخته مخکې د زړښت مخه نیسي.
۱۴- د پوستکي لپاره خورا ګټورې دي او پوستکی شفاف ساتي.
۱۵- د اضافي چاغوالي مخه نیسي.
۱٦- حافظه پیاوړې کوي.
۱۷- د بدن عضلي پیاوړې کوي.
۱۸- که غواړئ منظم خوب وکړی، نو د شیدو څښل در سره مرسته کولی شي .

## د ښې سلیقې لپاره دغه سپارښتنې عملي کړئ


ځېرونکي وایي، هغوی چې د خپلې ظاهري څېرې، لباس او ځان خیال نه ساتي، ښکاره ده چې د خپلې دندې، مسوولیت او نورو خلکو پروا هم نه لري. د ښې سلیقې لرلو لپاره لاندې سپارښتنې عملي کړئ:

۱ـ د خپلو وېښتانو خیال ساتئ

که خوښېږي مو، د خپل سر وېښتان بېخي کم کړئ. غیر منظم او ګډوډ وېښتان ستاسې پر رواني وضعیت تاثیر کوي او ستاسې مخاطب هم ستاسې په لیدو سره تر تاثیر لاندې نه راځي، بلکې په منفي ډول له تاسې څخه اغېزمنېږي. پاک او منظم وېښتان د سړي راښکون او جذابیت زیاتوي او نور خلک ترې هم تر ډېره ژر متاثره کېږي.

۲ـ د غاښونو پاک ساتل

د غاښونو پاک ساتل ستاسې موسکا نوره هم قېمتي او ارزښتمنه کوي. خپل



غاښونه سهار او ماښام ضرور بورس کړئ. مسواک وهل هم ثواب دی او هم خرما، نو مسواک وهل خپل عادت وګرځوئ. څومره چې ستاسې غاښونه پاک وي، هغومره به تاسې ارام یاست او پر خلکو به مو اغېز ډېر وي.

۳ـ خپلو جامو ته پام وکړئ

هڅه وکړئ چې داسې څه واغوندی چې یو له بل سره په توافق کې وي. د بېلګې په ډول، له بوټانو سره جرابې واغوندی، خو له څپلیو سره بیا جرابې مه اغوندئ.